سید عبیدالله نادر

۲۰۲۳/۰۱/۳۱

# د زړه حال

راته ښکلی زړه ضمیر ،او خپل نظر کړې
په حکمت او معـــرفت می، مـــنور کړې

چې جـهان د حقـــیقت په کې ښـــکاريږي
کیفـــیت د بیـخودۍ نه می، خــــبر کړې

مودې وشـــوی، تورتموکې ، زه اوسیږم
دغه شپې د تورتمـونو می، ســــــحرکړې

چې حاصل راته سکون،د زړه هر دم شي
وحشــــتونو له توفـــانه می، بـــهر کړې

چې د زغم ځلې می ، جګه تر آسمان شي
اوسـیله می، داســـــي لوړه لکه غر کړې

چې مو زړونه ، له هر خوا نه شي راجمع
دا خواره واره راغونډ، په یو محور کړې

بی قیـــمته کـــانې، مــــا ، درته راوړي
ربه! ته يې را بدلي ، په ګـــــوهر کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ